د افغانستان اسلامی جمهوریت

د چاپیریال ساتنې ملي اداره

د مقالې لیکلو سیالي

موضوع : د چاپیریال په باره کي عمومي معلومات او همدا شان په لویو ښارونو کې د هوا ککړتیا عوامل او حل لارې او په دیني اومرو کې د چاپیریال ساتنې ځای

نوم: بلال ( احمدي )

د پلار نوم: ناریم جان

ولایت : خوست

والسوالي: موسی خیل

تیلفون شمیره : ۰۷۹۴۵۶۳۰۷۵

ایمل: bilalafghan12132@gmail.com

کال: ۱۳۹۹

چاپیریال : ټول هغه څه چې زمونږ شاوخوا کې دي چاپیریال جوړوي .

د ژوند چاپیریال د بیولوژیکي ، فزیکي او ټولنیزو ښکارندو ټولګه ده چې یوبل سره متقابلې او تړلې اړیکې لري او په مجموع کې د انسانانو په ژوند اغیزه لري یا انسان او د هغه شاوخوا له اقلیمی او ټولنیزو شرایطو سره یوځای او یو پر بل د هغو د ټولو اغیزې د ژوند چاپیریال بلل کیږي .

په د توګه د ژوند چاپیریال د ژوندیو او غیر ژوندیو عناصرو جوړښت او مجموعه ده .

انسان ددغه ترکیب یو نه جلاکیدونکي برخه ده او د خپل ژوند د دوام لپاره ورته اړتیا لري انسانانو یوه مهمه دنده له ککړتیا او ناپاکیو څخه د ژوند چاپیریال ساتل دي په چاپیریال کې ټول دوه ډوله عناصر لیدل کیږی یو یې ژوندي عناصر دي لکه : انسانان، ژوي ، ونې-بوټي او ذره بیني کوچني شیان دوهم ناژوندي شیان لکه: اوبه، تبږي، خاوره او هوا ..............

باید وویل شي چې الله ج د طبیعت نظام داسي جوړ کړی چې د هغه اجزاوو او بیلابیلو برخو ترمنځ طبعی تعادل شته که چیرې دغه تعادل او انډول ګډوډ شي د ژوند په چاپیریال اغیزه کوي .

چاپیریال ساتنه زمونږ شاوخوا د هغو ټولو ژوندیو او غیر ژوندیو موجوداتو په ژوند په مستقیم او غیر مستقیم ډول اغیزه لري .له بده مرغه د ځو لسیزو جګړې، مسلکي کادرونو او د عامه پو هاوي کمښت د خرابیدو سبب شوي.

اوبه، هوا اوخاوره د چاپیریال دری مهمي ستنی ګڼل کیږي چې ددغو هریو ککړتیا د انسانانوپه ژوند خواره منفي اغیره لري . له لده مرغه د افغانستان خلک په د ټولو برخو له بی شمیره ستونزو سره لاس او ګریوان دي اوس په هریو باندي رڼا اچوو .

۱ـ د هوا ککړتیا: هوا زمونږپه ژوند کي مهم رول لري ټول ژوندي موجودات هوا او اکسیجن ته اړتیا لري د هواپه جوړښت کې ٪۷۸ نایتروجن ٪۲۱ اکسیجن او همدا شان اوزون پکې شته.

نو هغه اضافی ماده چې په هوا کې ګډه شي اود هغې فزیکي ، کیمیاوي ځانګړتیاوې او د هغي حیاتي شرایطو ته بدلون ورکړي د هوا ککړتیا بلل کیږي.

د روغتیا نړیوال سازمان وروستي راپوټونه ښایی چې تر پنځوسو زرو ډیر افغان وګړي هر کال د هوا ککړتیا څخه د راولاړیدونکو ناروغیو له کبله مري.

همدا لامل د چې په نړي کې د تنفسی ستونزوله کبله د افغانانو د مړیني کچه د ځینو نورو هیوادونو په پرتله لوړه ده . د تودوخي یا پخلی لپاره په کورونو کې د لرګیو سون ، په موټرونو کې د ټیټ کیفیت لرونکو تیلو کارول او په عامه ځایونو یا کارخانو کې د لرګیو یا د ډبرو سکارو سوځول هغه څه دي چې هوا ککړوي او ډیري زهرجن غازونه لکه کاربن مونواکساید، نایتروجن ډای اکساید، بینزوپایرین او ډایوکسین

پیدا کوي . چې وروسته د راز راز تنفسی ناروغیو تر څنګ د سرطان، زړه، پوستکي او روانی ناروغیو سبب هم ګرځي.

د هوا ککړتیا او عومل: مختلف عوامل دي. چې د هوا د ککړتیا سبب کیږي او په نتیجه کې په محیط کې د زیاتو مرضونونو دخپریدو سبب کیږي په افغانستان کې تر ننه د هوا ککړتیا خطر ته پام وړ پاملرنه نده شوي ، بلکې د چاپیریال په اړه خواره ډیر تمرکز د طبیعی منابعو بي قانونه استخراج، امنیتي اړخونو ته شوی ، ځکه خو نوي اټکلونه ښايي چې ککړه هوا هر کال زر ګونه کسان وژني او ممکن اوس په افغانستان کې ککړتیا د وسلوالو شخړو په پرتله ډیر خلک وژني . د عامي روغتيا وزارت په وینا په کابل د هوا ککړتیا له امله هر کال دریو زرو څخه دیر ژوند اخلي او په ۲۰۱۶ م کال کې په ټول افغانستان کې د هوا ککړتیا ۵۱۴۰۰ کسان وژلي وو .

اوس د هوا ککړتیا عوامل یو یو تشریح کوو.

۱ـ د چاپیریال ساتني لپاره د سیاسي ارادي نه شتون ، جغرافیایي موقعیت ، په کابل ښار کې د چاپیریال په برخه کې د هوا ککړتیا کمه پاملرنه، د بریښنا کمښت او د نفوسو ډیروالي چې د ښار د ککړو ښارونو په لیست کې راشي .

۲ـ د مغلقو ذرو غلظت په څنګ کې شین کوریز ګازونه ، لیډ، کاربن مونو اکساید ، سلفر ډای اکساید ، نایترو جن ډای اکساید ، سرپ، اوزون د هوا د ککړتیا لاملونه دي .

۳ـ موټرو کې د ټیټ کیفیت تیلو کارولو ، په ښار کې د سرکونو خرابوالي، د خښتو د بټیو موجودیت ، فابریکو ، حمامونو او هوټلونو کې د لرګیو او نورو بي کیفیته شیانو سوځول ، کورني جنراتورونه، د فاضله موادو سوځول لکه پلاستیک ، سکارو او ربړونو سوځولو سره د خطرناک ګازونه هوا ته خارجیږی چې بیا ورسره هوا ککړیږي .

۴ـ بل پلو ته د وګړو ډیروالي ته په کتو د ښار جوړوني نیمګړی پلان ، د شنو سیمو نشتوالي ، نامناسب ښاري کلتور ، نه کانالیزاسیون ، ځای ځای نامناسب ګاز پلورنځي هم د هوا ککړتیا لامل دي .

ځیني کوچني ذرات د ساه اخیستني په مهال د پوزې او خولې له لاري بدن ته داخلیږي او په ننوتو د ویني جریان سره یو ځاي کیږی چې دا د سرطان ، سلنډی ، لیکیومیا ، پینمونیا ، پیداشي ناروغی ، اتیزم، زړه ناروغی ، مخکي له زیږده د نوي ماشوم مړینه او ورته د نورو مرضونو لامل هم ګرځي.

## د هوا ککړتیا د مخنیوي لارې

۱ـ د ناروغیو له منځه وړولو لپاره زمونږ د هیواد هر وګړی مکلف دی چې چاپیریال ساتنه کې له هیڅ ډول هڅو نه ځانونه ونه سپماوي .

۲ـ د هوا ککړتیا د مخنیوي تر ټولو اساسي حل دا دی چې د ککړتیا ټول اصلي لاملونه باید ختم کړای شي ، د سکارو او ټیټ کیفیت تیلو پر ځای پاکه (رینیوبل ) انرژي ، لمر او باد وکریږي .

۳ـ همداسي د لویو پروژو د چاپیریال ارزوني پر مهال د هوا کیفیت ته ډیر پام وکړل شي بیلګي په توګه د الوتکو او نوري لوي لاري باید له استوګنځیو ډیرې لرې وې .

۴- د دولتی ترانسپورټ منظم کولو سره باید په ښار کې د شخصي موټرانو تعداد کم کړاي شي او د تیلو په واردولو کې د کیفیت کنترول شي .

۵- د ښار شاوخوا چې کومې د خښتو بټۍ په زوړ تخنیک تولید کوی مالیکین یی باید د ته مجبور شي چې خپلې بټۍ د نوي تخنیک سره عیاري کړي او دود د تصفیی لپاره ځانګړي استنډرډونه مراعات کړي .

۶- باید ونی کینول شي او چې تر څو د هوا ککړتیا مخنیوي وکړي .

## چاپیریال ساتنه د الهی احکامو په رڼا کې

اسلام د چاپیریال او د هغې د بنستیزو توکو په ملاتړ کې ځانګړي تاکید او سپارښتني لري او هغه هم د انسان د خیر او نیکمرغی او د اوسني نسل او راتلونکو نسلونو د اړتیاوو د بشپړولو او تآمین لپاره الله ج په لومړی سر کې یی پیدایښت ( خلقت ) او هستي سپیڅلي او له ټولو ککړتیاوو څخه پاک پیدا کړ او انسان ته یی امانت وروسپاره تر څو خپله هم تري وخوري او وڅښی او هم راتلونکو نسلونو لپاره سالمه روغتیا پریږدي او له بې ځایه کاروني او زورواکۍ څخه ډډه وکړي او د راتلونکي نسل حقونه تلف نه کړي په اسلام کې د طبیعي زیرمو غلطه کارونه تیرای ګڼل شوی او خواره ډیره غندنه یی شوي.

الله ج د طبیعی زیرمو څخه د کاروني په برخه کې فرمایی : هر څیز مو له اندازی پیدا کړی نو هر څیز لري او لازمه د چې سمه او سالمه توګه تري ګټه پورته شي او له منځه ولاړ نه شي .

۲- د خاورې ککړتیا: د ځمکې د مخ پورتنی طبقه د خاورو له کوچنیو ذراتو، هوا ، اوبه او ډیرو کوچنیو ذره بیني موجوداتو څخه جوړه شویده. خاوری د فزیکي او کیمیاوی تعملاتو څخه تشکیلیږي. فزیکی او کیمیاوي شرایط د اقلیم په څرنګوالي پوري اړه لري.

په پرمختللو هیوادونوکې د خاوري ککړتیا ستونزه ډیره لیدل کیږی چې عمده لامل یې د کارخانو او معدنونو استخراج دی. که څه هم زمونږ هیواد کې ډیرې کارخانی نشته . خو په کرهڼه کې د مرضونو له منځه وړلو لپاره ډیری کیمیاوي مواد او دوا ګانې ، د ځمکې پر سر د چټلیو سوځول او یا هم په غیر خوندي ځایونو کې دچټلیو ساتل د ځمکې ککړتیا سبب ګرځي.

۳- د اوبو ککړتیا : یوائې په کابل ښار کې تر لس سلنې کم کورونه د کانالازیسیون سیستم ته لاس رسی لري چې پاتې ټول کورونه یی خپلې ناپاکې اوبه د ځمکې له لاندې د اوبو سرچینو ته او یا نویو سیندونو ته لار مومي. همدا رنګه په کورونو کې د تشنابونو څاګانې په غیر معیاري ډول کیندل کیږي چې د وخت په تیریدو سره یی چټل مواد د ځمکې لاندې اوبو سره ګډیږي تر ټولو خطرناک د لویو روغتونونو ګند او د کارخانو کیمیاوي مواد دي چې له پاکیدو پرته زمونږ د اوبه سیستمونو ته داخلیږی او په پایله کې یی پاکې اوبه مرداریږي.

چې له یو خوا په اوبه کې د شته موجوداتو ژوند ګواښ جوړوي. بل خوا همدا چټلې اوبه هر کال تر شپیتوزرو ډیر هیوادوال د مرګ کندي ته غورځوي.

۴- ستونزه دخامو کوڅو او سراکونو خرابتیا یوبل لامل دي چې ژوند چاپیریال له ستونزو سره مخ کوي.

۵- د ښاریانو له خوا د زړو عراده جاتو استعمال ، د نفوسو ډیربښت لکه د کابل ښار د څلورو څخه تر پنځو میلینو پورې او د بې کیفیته سون توکو لکه د تیلو سوځول د ژوند چاپیریال له ستونزو سره مخامخ کوې.

۶- هغه سیمي چې کارخاني او فابریکي لري د ونو نه شتون او د ځنګلونو وهل په خپل سر باندي یوبل لامل دي ځکه چې په ځنګلونوسره د وخشي ژوو ژوند خوندي وي او همدا شان یوه ونه اتلس کسانو ته اکسیجن برابروي نو ځکه د هوا ککړتیا د مخنیوي لپاره مهم دي.

## څه باید وشي اوحل لارې

۱- د ډیرو او همدا شان د زړو عراده جاتو څخه مخنیوی وشي. همدا رنګه د بې کیفیته نفتی او سون توکو مخنیوی، د کیفیت لرونکو سون توکو استعمال ، د سوداګرو له خوا د زړو وسایطو نه واردول ، د حلقوی سرکونوجوړول تر څو په ښار کې د وسایطو ګڼه ګونه ورکه شي. دخلکو د اړتیاوو رفعه کولو لپاره د ښاري منظم ټرانسپورټیشن (ملي بس وسایطو) استعمال ، د پارکنیګ جوړونه، خاموسرکونو پخول او د سرکونو او کوڅو څخه د خټو او خځلو لرې کول.
د ماستر پلان مطابق د کورونو جوړول تر څو پرانیستي فضا وي.
۲- چاپیریال ساتنه یو هیواد د ننه د مختلفو ادارو هر اړخیزو همکاریو ته اړتیا لري. له ټولو لومړی باید د چاپیریال ساتنی ملی اداره فعاله وي . چې د چاپیریال د قانون د تطبیق په خاطر سخت اقدامات وکړي. او سرغړونې په صورت کې د قضایی ارګانونه خپل اجرات ترسره کړي. عامو وګړو ته په کار دي چې له هغو کارونو ډډه وکړي چې د چاپیریال ته ضرر سبب ګرځي د بیلګي په توګه: په نویو ودانیو کې د خراب کیفیت تشنابونه ، عامه ځایونو کې د پلاستیکونو ، ټایرونو او نورو چټلیو سوځول ، په کورونو ، هوټلونو او په نانوایانو کې د خاشاکو په توګه د لرګیو ، ډبرو سکارو سوځول او د زړو ماشینونو موټرونو کارول ټول هغه څه دي چې استعمال په کموالي یی کولي شو چې تر ډیره بریده ستونزې راکمې کړو.
حکومت په کار دي چې په ځانګړي پاملرنه داسی پروژو ته وکړي چې راتلونکي نسلونه د چاپیریال ککړتیا او ورڅخه راولاړیدونکو ستونزو وژغورل شي.
۳-په ټولو ښارونو او په تیره بیا په نویو ښارګوټو او اپارتومانو کې د کانالیزاسیون سیستمونه جوړ کړای شي چې پاکې او چټلې اوبه سره جلا شي.
۴-غټو ښارونو لپاره د هغوي د نفوس په اساس مرکزي د اوبو پاکوالي دسګاوي جوړې کړای شي چې ټولې چټلې اوبه له پاکیدو وروسته بیرته د کرهنې لپاره وکارول شي او یا هم سیندونو وغورځول شي.
۵- د ځنګلونو ونې پرې نه شي او ملی پارکونه جوړ شی او ساتل شویو سیمو ساتنه وشی او همدا شان د مضرو غازونو څخه ډډه وشي.

## پای

مآخذونه: د افغانستان تعلیمی نصاب کتابونونه

د انټرنیټ بیلا بیل ویبسایټونه

زراعت اړوند د چاپیریال ساتني کتابونه

چاپیریال ساتنه ( شفیع ګل شفیقي)

محیط زیست تهران